له خپلو کورونو څخه هديرې مه جوړوئ، يقينا چې شيطان له هغه کور څخه تښتي چې د بقرې سورت پکې لوستل کيږي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "له خپلو کورونو څخه هديرې مه جوړوئ، يقينا چې شيطان له هغه کور څخه تښتي چې د بقرې سورت پکې لوستل کيږي".
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم منع فرمايلی چې کورونه له لمانځه څخه خالي شي، ځکه (بې لمانځه کورونه) هديرو ته ورته وي چې لمونځ پکې نه کيږي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې شيطان له هغه کور نه تښتي چې د بقرې سورت پکې لوستل کيږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6208